حفیظ الله خالد ۲۰۱۶/۱۲/۲۷

د اروا بنساد ملنګ جان ژوند لیک

ملنګ جان په۱۲۹۳لمریزکال د ننګرهار د بیسودو په چمیارکلي کي وزیږید. پلاریي ملک عبدالشکور نومید چي په دري کلنۍ کي تري یتیم پاتي شو او پوله پټی یي هم د ناوړودودونو او تربګنیوله کبله له لاسه ورکړ.
اصلي نوم یی محمد امین و، وروسته امین جان او په پای کي ملنګ جان شو. په پنځلس کلنۍ کي یي د خوارۍ مزدورۍ لپاره له خپلي کورنۍ سره د کامي ولسوالی ته کډه وکړه او هملته یي د شعر ژبه ویانده شوه او ملنګ جان په نامه یي په خوږو نغمو پیل وکړ. شپږ میاشتي وروسته له کامي څخه بیرته خپل پلرني کلي ته راستون شو. بیایي د جلال آباد په امنیه او د کونړ په لویه ولسوالۍ کي خپله دوه نیم کلنۍ د عسکری خدمت سر ته ورسوله او وروسته بیا په خپل کلي کي په مزدورۍ بوخت شو. د شلوکلونو په عمرکي یي لومړۍ ترانه په اتحادمشرقي (ننګرهار)کي خپره شوه. دا هغه مهال و چي شعرونه او نغمي یي د سندر غاړو لخوا ویل کیده او هغه د پوره نوم خاوند شوی و
په کال ۱۳۲٤کي د سرارمحمد داوود لخوا وبلل شو او په ۱۳۲۹ کال کي ورته د سردارشاه محمود صدراعظم له خوادکال شپږسوه مستمري معاش (تنخواه) وټاکل شو. په ۱۳۳۲ کال یي کابل ته راوغوښت او په کابل راډیو کي د پښتو موسیقۍ منتظم وټاکل شو. په کال ۱۳۲۸ کي ورته سردار محمد داود صدر اعظم د لیک لوست لپاره یو ښوونکی وګوماره او له هغه څخه یي په شپږو ورځو کي دومره څه زده کړل چي نور یي خپل شعرونه په خپله لیکلی او لوستلی شول. له بده مرغه مرګ دغه خوږ ژبی ولسي شاعر نور پر افغاني ټولني ونه لوراوه او د ۱۳۳٦ کال د لړم په لسمه کله چي له کابله ننګرهار ته له خپلي کورنۍ سره تلو، دلته بند په کږلیچونو کي پرې ګاډی واوښت او له خپل یواځیني دري کلن زوی (دوا جان) سره د مرګ ګنډي ته وغورځید. جنازه یي ننګرهار ته ولیږل شوه او د چمیار کلي په پلارنۍ هدیره کي په ډیر درناوي خاورو ته وسپارل شو. پر مړینه یي ډېري اوښکي تویي شوي او ویرني پرې وویل شوي. افغانستان راډیو یو ځانګړی پروګرام خپور کړ او په هغه کي د سردار محمد داود پیغام او پښتو او دري خواخوږۍ او ویرنۍ وړاندي شوي چي وروسته هغه د یوه غونډ په بڼه چاپ او خپور شو. پر افغاني ټولیزو رسنیو سربېره پرې د پښتونستان اخبارونو هم خپروني وکړي او د باچاخان په ګډون ډېرو دپښتنو مشرانو د خواخوږۍ پیغامونه راواستول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اروابناد ملنګ جان هغه وخت د خپل کلي او کور نه د باندې وپېژندل شو چې د ملنګ جان په نامه يې په شاعرۍ شروع وکړه، او د هغه اشعار د سندرغاړو په تېره د هغه له شاګردانو، لکه طلا محمد، اول مير، ايوب، فقير محمد او نورو څخه په دېرو، حجرو، او ودونو او د خوښيو په مجلسونو کې واورېدل. ملنګ جان نور نو چمياری د کلي عادی اوسيدونکی نه وو، بلکه يو ولسي شاعر و چې نه يواځې په افغانستان بلکه په پښتونخوا کې هم ټولو هغه وپېژانده.
ملنګ جان لومړنی پښتوولسي شاعر و چې د اوربل او زلفو لِه نړۍ څخه يې واقعي نړۍ ته ګام کېښوداو په خپلو زړه راکښونکو نغموکې يې د خپل ولسي او ټولنې هيلو او دردونو ته ځای ورکړ، په پښتو ولسي شعر کې دغه ستر او ښتون دهمده نامه سره تړلی شو او نوروته د الهام سرچينه شو. ملنګ جان په خپلو خوږونغمو سره يې په پښتو موسيقي کې نوي تالونه او طرزونه را منځته کړل او ولسي نظم ته يې په زړه پورې پراختيا ورکړه هغه نورو ولسي شاعرانو ته لاره پرانيستل. أن تر دې چې ډېر لوست ليک والا شاعران يې تر اغيزې لاندې راغلل او آګاهانه او ناګاهانه د هغه لارويان شول.
د ملنګ جان د اشعارو غټه برخه د ټولنې ناخوالی تشکيلوي. ملنګ جان دغه موضوعات هضم او بيا يې له خپل احساس او درک سره سم د شعر په ژبه بيانوي او ولس ته يې وړاندې کړل څرنګه چې دغه موضوعات په اصل کې له ولس نه ولاړ شوي وو، په ولس ښه ولګيدل او ولس هم د هغو او هم د خپل شاعر قدر وکړ. پنځمه لسيزه چې په افغانستان کې د آزادۍ او د دموکراسۍ په وړمې پېل شوې او په اوږدو کې يې د پښتونستان موضوع توده وه ملنګ جان يې وهڅوه چې په خلکو کې د جاري او ژونديو موضوعاتو يعنې د ننګ، غېرت، پېغور، آزادۍ، توري، پښتو، پښتونوالی، نيکونو، وطن، پښتونخوا، او پښتونستان چغې په خپلو سندرو کې د يو ولسی شاعر په توګه پورته کړې. دغه چغې، په تېره د پښتونستان چغه، ملنګ جان په خپلو ترانو او د د سيمې سندرغاړو په خپلو آوازونو سره توده وساتله. د پښتونستان په هلکه د ملنګ جان چغې د رسمي تبليغاتو تر چغو نه زياتې
سر بيره پدی د ملنګ جان په شعرونو کی د ټولنی د آينی په توګه مختلف موضوع ګانی انعکاس موندلی او د ديني او اخلاقي موضوعاتو نه نيولی تر ښوونی او روزنی پرمختګ اواجتماعی عدالت ټول د ملنګ جان په شعرونو کی موندلی شو د هغه وخت د ټولنی نيمګړتياوی او ناخوالی د شعر په ژبه بيان کړی لکه دا لاندی نظم چی وائی:

څه لرمه چې د خدای

څه لرمه چې د خدای په نوم يې ورکړم
چې طبيت د خان صاحب پرې برابر کړم
په زر درېزره جريمه قانع نه دی
مناسب وي چې يو چرګ ورميسر کړم
زما وړي نس ته نه ګوري خان غواړي
په يارانو سلا راکړئ څه هنر کړم
په سلام او په ځار ځار نه پخلا کيږي
سل ګيز نشته چې له جيبه يې بهر کړم
نن سبا به يې تر لښتو لاندې مړ شم
اوس بايد چې کور او کلی پرې خبر کړم
زه چې خدای کړم د هر چا ګزار ته نښه
څه ګيله به د غريب او زورور کړم
نن به زه ملنګ جان صبر نه کار واخلم
خپل فرياد به پاک الله ته په محشر کړم

تر کومه؟

بې بازخواست او بې پرسان به يم تر کومه؟
سر سرتور څيرې ګريوان به يم تر کومه؟
په نارو مې ستونی وچ شو څوک يې نه اوري
د کانه بادار دهقان به يم تر کومه؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما مخ د بل ځپېږي به تر څو وي؟
په سلګو او په جان جان به یم تر کومه؟
د وطن خدمت دپاره وزګار نه شوم
خدمتګار د هر یو خان به یم تر کومه؟
په کرلو او ریبلو یې پوهیږم (۱)
نالایق د دسترخوان به یم تر کومه؟
په قیامت کې به د ډیرو ګریوان نیسم
خوف نه ګونګ زه ملنګ جان به یم تر کومه؟

څرنګه چې ملنګ جان د ژوندانه په وروستیو کالونو کې په لیک او لوست دومره بلد شو چې خپل اشعار یې لوستلی او لیکلی شول . نو د ده جهان لید ، نه کتابي و او نه یې اشعار د شکل له مخې په دقیقو شعري اصولو بنا وو . بلکې هغه د شکل او محتوا له مخې محلي او ولسي وو . پاخه هم نه و ، خو روان او طبیعي و ، د هغه عشقي اشعار تر نورو نه پاخه او له خیال او تشبهاتو نه ډک و، لکه دا لاندې څو بېتې:

ته د ناز په خوب ویده وې ما ژړل
ته بې غمه اسوده وې ما ژړل
ستا د مخ او د سپوږمۍ مقابله وه
ته په مخ ترې ازموده وې ما ژړل
ما درخواست د یوې خولې درځنې وکړ
راته ښکارې ازرده وې ما ژړل
وچ بالښت زما په اوښکو باندې لوند شو
ته په ناز کې پرورده وې ما ژړل
دا زما ملنګ جان برخه کړېدل دي
ته له نازه پرخنده وې ما ژړل

پایان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ